# د ټولو جنسیتونو لپاره عادلانه استوګنځای




IF YOU'RE DENIED HOUSING BECAUSE YOU'RE TRANSGENDER, IT'S NOT ALWAYS THIS OBVIOUS.

CONTACT YOUR LOCAL FAIR HOUSING AGENCY TO HELP YOU READ BETWEEN THE LINES.

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE

"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

1-800-200-FAIR (3247)

www.sexdiscriminationinhousing.org

## بیلګې:

د اپارتمان څښتن له ایجرا یا ترانسجنډر ښځې څخه غوښتي دي چې د ملکیت په ګډو برخو کې ښځینه جامې وانه غوندي.دا عادلانه استوګنځای د قانون (FHA)څخه سرغړونه ګڼل کیږي چې په هغې کې جنسیتي تبعیض منع شوی دی.

د یوه ملکیت مدیر یوه اجاره کوونکي ته چې په ډېر احتمال سره ایجړا و، د یوه واحد په اجاره ورکولو څخه ډډه کړې ده. که چېرې د استوګنځای نه ورکول له جنسیتي پیژندنې سره د اجاره ورکوونکي سمون نه لرل وي، د FHAد اصولو تر چتر لاندې د جنسیت پر بنسټ غیر قانوني تبعیض ګڼل کیږي.

د کور څښتن یوې ښځینه متقاضي ته د اجاره له ورکولو څخه ډډه کوي، ځکه هغه نارینه جامې اغوندي او یو شمېر داسې فزیکي حرکات ترسره کوي چې په اصلي ډول په نارینه وو پورې اړه لري. دا د FHAلخوا د جنسیت پر بنسټ د تبعیض نه کولو له حکم څخه سرغړونه ګڼل کیږي.

مالي اداره د FHAیو بیمه شوي پور ورکوونکي لپاره د دو نارینه وو د ګډو پور غوښتنه ارزوي. مالي اداره داسې ګڼي چې متقاضیان یوه همجنسګرا جوړه دي او په پایله کې غوښته ردوي، حتی که چېرې متقاضیان د پور لپاره ټول اړین شرایط هم ولري. دا د HUDد مساوي لاسرسي قانون تر پښو لاندې کوي، چې د FHAد بیمه پور ورکوونکي د واقعي یا اټکلي جنسي تمایلاتو په نظر کې نیولو سره د متقاضي د عاید لپاره د برابر والي په ټاکلو کې منع کوي.

وه لزیین متاهله جوړه چې ماشومان لري د "کورنۍ او غیر معمولي اړیکې د لرلو له امله د اجارې له ترلاسه کولو څخه محرومیږي. دا د عادلانه استوګنځای له قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي.

**د HUDسرچینې:**
https://portal.hud.gov/hudportal/HUD?src=/LGBT_resources

که چېرې ستاسو د استوګنځای حقونه د نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، **جنسیت**، معلولیت، کورني حالت، مدني حالت، **جنسي تمایل، جنسیتي هویت**، د تقاعد شوي سرتیري/وسلوالو ځواکونو کې د شمولیت د حالت، عقیدې، د کډوالۍ یا تابعیت د حالت له امله تر پښو لاندې شوي وي، نو په دې صورت کې اړیکه ونیسئ:

NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE

"Working to Ensure Equal Housing Opportunity for All"

35 West Main Avenue, Suite 250
Spokane, WA 99201
Ph 509-325-2665
1-800-200-FAIR (3247)
فکس 1-866-376-6308
www.nwfairhouse.org

Sex Discrimination In Housing

www.sexdiscriminationinhousing.org

هغه کار چې د دې خپرونې د خپرېدو لپاره یې زمینه برابره کړې ه تر یوې کچې پورې د متحده آیالاتو د کور جوړو او ښاري پراختیا وزارت (HUD)څارنې او مالي مرستې په واسطه یې ملاتړ ترسره شوی دی. NWFHAپه دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او په هغې کې د شاملو تفسیرونو د کره والي مسوولیت لري.

**Pashhto** -

انګلیسي– 7/2022

# د عادلانه استوګنځای قانون

## د جنسي تبعیض پر وړاندې خوندیتوبونه

د عادلانه استوګنځای قانون (FHA)په 1968 کال کې د نژاد، رنګ، ملي اصل او مذهب پر بنسټ د خلکو پر وړاندې د استوګنځای په برخه کې د تبعیض څخه د ساتنې په موخه تصویب شوی دی. په 1974 کال کې کنګرې د **(جنسیت)** پر بنسټ یو شمېر ملاتړونه اضافه کړل او په 1988 کال کې معلولیت او کورنۍ حالت (په کورنۍ کې ماشومان) پکې اضافه شو.

د وخت په تېرېدو سره، دا قانون د محکمو او HUDلخوا تفسیر شو تر څو مشخص کړي چې د **(جنسیت پر بنسټ تبعیض)** بېلابېل شکلونو سره ترسره کېږي، **چې په هغې کې جنسي ځورونه او جنسیتي ځانګړتیاوې** او د کورنۍ **تاوتریخوالي څخه د ژغورل شویو** او هغو کسانو چې له **جنسیت سره سمون نه لري یا ایجرا** وي، ساتنه ترسره کول شامل دي. په 2012 او 2016 کلونو کې HUDد **جنسیتي هویت او جنسیتي تمایل څخه د ساتنې لپاره د HUDپه پروګرامونو کې یو شمېر اصول خپاره کړل**. په 2021 کال کې، HUDاعلان وکړ چې د جنسیتي تمایل او **جنسیتي** هویت اړوند شکایتونه د عادلانه استوګنځای د قانون د خوندیتوبونو تر چتر لاندې د لپاره قبلوي.

### <u>خیل حقونه وپېژنئ</u>

د استوګنځای د چمتو کوونکو لپاره لاندې موارد <u>منع</u> دي:

- واقعي یا اټکل شوي جنسیتي هویت پر بنسټ د **LGBTQIA+**د کسانو پر وړاندې تبعیض یا بل هر دلیل چې د جنیستي تبعیض لامل شوی وي
- یو څوک د **HIV/AIDS**د حالت له امله د استوګنځای له لرلو څخه منع کول

یوازې د **جنیستي هویت** له امله **د ایجراګانو جلا کول د بې کوره** کسانو په ټولو مرکزونو کې <u>منع</u> ګڼل کیږي.

د استوګنځای هغه چمتو کوونکي چې د HUDبودیجه ترلاسه کوي، د اجاره کوونکي پر وړاندې د واقعي یا اټکل شویو جنیستي تمایلاتو، جنیستي هویت یا مدني حالت له امله تبعیض ترسره کول <u>منع</u> دي.

د اجاره ور کوونکي لخوا دا مورد <u>منع</u> ګڼل کیږي چې په شرایطو برابر متقاضي ت ه **د جنسیتي تمایل، جنیستي هویت یا مدني حالت پر بنسټ** د FHAد بیمه شوي پور له ورکولو څخه ډډه وکړي.



# د HUDاصول او لاربښود

### ***جنسیتي تمایل یا هویت ته له پام پرته د HUDپه پروګرامونو کې استوګنځای ته مساوي لاسرسی - 2012***

د استوګنځای هغه چمتو کوونکي چې د HUDبودیجه ترلاسه کوي یا د استوګنځای د فدرالي ادارې (FHA)څخه بیمه شوي پورونه لري، د مساوي لاسرسي په اصولو کې شامل دي چې د شخص اصلي یا اټکلي جنسیتي تمایل، جنسیتي هویت یا مدني حالت ته له پام پرته د HUD پروګرامونو ته د لاسرسي حق لري.

**Equal Access Rule:**
https://portal.hud.gov/hudportal/documents/huddoc?id=12lgbtfinalrule.pdf

### ***له جنسیتي هویت سره سم د پلان جوړولو او د ټولنې د ودې د قانون پر بنسټ مساوي لاسرسی - 2016***

د **جنسیتي هویت قانون** تضمینوي چې ټول خلک د کور جوړونې وزارت **د سرپناه له اصلي** پروګرامونو سره سم او د خپل جنسیتي هویت پر بنست د مساوي لاسرسي حق لري. ...هغه چمتو کوونکي چې د یوه جنسیت پر بنسټ پروژې چې د ټولنې د پلان جوړولو او ودې د دفتر (CPD)له لارې بودیجه ترلاسه کوي، د قانون پر بنسټ اړ دي چې ایجراګانو او نورو هغو کسانو لپاره چې د زیږېدو له وخت څخه یې جنسیت نه وي په **ګوته شوی، د خپل جنسیتي هویت سره** پروګرامونو، ګټو، خدمتونو استوګنځای ته لاسرسي <u>ولري، پرته له دې چې له مزاحمت کوونکو پوښتنو سره مخ شي او یا ترې وغوښتل شي چې اسناد وړاندې کړي.</u>

**د جنسیتي هویت اصل:**
https://www.federalregister.gov/documents/2016/09/21/2016-22589/equal-access-in-accordance-with-an-individuals-gender-identity-in-community-planning-and-development